DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۹۲
شماره مسلسل ۹۵۹
پنجشنبه ۲۵ حوت ۱۳۸۴هش
۱۵صفرالمظفر ۱۴۲۷ هـ ق
16 March, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

بقایای طالبان تهدید بزرگ

بقایای طالبان اکنون یک تهدید بزرگ در افغانستان و نیز در برابر اجرای ماموریت سازمان ملل متحددرین کشور بشمار می اید این مطلب را تام کونیگر نماینده سازمان ملل متحد درافغانستان اظهار داشت. هم چنان کریم رحیمی سخنگوی ریاست دولت میگوید که بمنظور جلوگیری از حملات هراس افگنان در کشور دولت امادگی های ویژه یی را گرفته است. اقای کونیگر به شورای امنیت سازمان ملل گفته است که افزایش ناامنی در افغانستان بویژه مناطق دور دست و

متشنج از جمله مشکلات عمده است ص۴

د یوې ریکشا چلوونکی ووژل شو

تیره شپه په کندهار کې کانادایی خواکونو دیوې دپژواک دخبری اژانس دخبر له

ریکشا چلوونکی وژلی دی.

مخې پنځوس کلن نصرت الله کله چې په خپلې ریکشا کې تیره شپه ناوخته دخپل کور په لور روان و دکندهار ولایت د بیا رغاونې یا PRT د ډلې لخوا په ډزو وژل شوی دی. د وژل شوی کس کورنی ویلی چې ددې له مړې سره بې حرمتی شوی او نومورو خواکونو هغه دښار په چوک کې اچولی دی. ۴مخ

په خوست کې د جاسوسی په تور ۶ تنه ونیول شو

تېره شپه په خوست ولایت کې د ملي اردو او سوله ساتو خواکونو د ګډو عملیاتو په ترڅ کې شپږ تنه د جاسوسی په تور ونیول شول دغه کسان د خوست ولایت په مندوزیو او اسماعیل خېلو کې نیول شویدي د خوست د یوه امنیتي چارواکي په وینا دغو کسانو بهرنیانو ته جاسوسي کوله. دغه خبر په رسمي توګه نه دی تایید شوی

بازداشت به اتهام کودک ربایی

ماموران لوای دوم پولیس امنیتی شاهراه چند تن را به اتهام کودک ربایی بازداشت کرد است. عبدالحی قوماندان لوی دوم پولیس امنیتی شاهراه گفته است این افراد میخواستند هشت کودک را به کشور پاکستان منتقل سازند افراد متهم در منطقه پل دوشی شب گذشته باز داشت شدند. قوماندان لوای دوم پولیس شاهراه گفته است تحقیقات در زمینه جریان دارد.

پخش شبنامه در قره باغ غزنی

در منطقه قره باغ ولایت غزنی شب نامه هایی پخش شده که در ان والدین تهدید شده اند تا دختر ان خود را به مکتب نفرستند. مقامات امنیتی ادعا میکنند پخش شب نامه ها از سوی دشمنان مردم صورت گرفته است. شماری از باشندگان قره باغ مربوط مرکز غزنی از پخش شب نامه ها درین منطقه خبر میدهند انها میگویند درین اواخر از سوی افراد ناشناس شب نامه هایی پخش گردیده که در ان از مردم خواسته شده تا از فرستادن دختران خویش به مکاتب جلوگیری کنند ص۴

د خصوصی تولیدی سکتورونو ترځنګ ددولتی تولیدی سکتورونو اړتیا

په هیواد کې دازاد اقتصادی بازار په رامنځته کیدو سره د کورنیو او بهرنیو پانګوالو لپاره زمینه برابره شوه چې خپلې پانګې په کار واچوی او دملا ماتوونکو صادراتو مخه ونیسی. خو دریغه چې دځلورو کلونو په موده کې دبریښنا او ځمکې دورکولو په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې شوی نه دی او سراسری بی امنیتی هم دهغو په وړاندې خنډونه رامنځته کړی او زړه نا زړه شوی دی کومې تولیدی فابریکې چې رامنځته شوی دی د ازاد اقتصاد او نه کنترولیدونکی بازار په شته والی کې ورځ په ورځ زیاتیدونکی واردات کولای شي چې دکورنیو خصوصی سکتورونو په وړاندې خنډونه را منځته او ودریږي لکه چې زیاتې فابریکې له ودریدلو سره مخامخ شوی هم دی.

له بلې خوا دولت په پام کې لري چې دولتی تولیدی سکتورونو کې موجودی خپلې فابریکې هم دازاد بازار په شته والی کې وپلوري. زمونږ دټولنې په شرایطو کې چې اوس مهال قوانین یوازې په کاغذونو کې لیکل شوی سوداګر و او پانګوال هم تر اوسه پورې دهیواد او خلکو په ورځنۍ کمزوری ملی احساس لري او دولت هم دنرخونو دکنترول او څارنې په برخه کې له اجراتو ناتوانه دی او دوخت دشرایطو له املې خصوصی تولیدی سکتورونه داولس اړتیاوې دپرتو ستونزو له املې نشی پوره کولای په دې کار سره به نه یوازې دبهرنیو صادراتو دزیاتوالی لپاره زمینه برابره شي بلکې ددولتی تولیدی سکتورونو په خصوصی کولو سره به په زرګونو هیوادوال له کار او روزګار څخه بې برخې شي او دبیکاری دستونزو په رامنځته کیدو سره د سراسری امن او امنیت دخرابیدو اندیښنې موجود دی چې نوموړی اندیښنې کولای شي په پای کې دټولو خصوصی سکتورونو په وړاندې خنډونه رامنځته کړی ځکه لازمه دا ښکاری چې په هیواد کې دخصوصی تولیدی سکتورونو ترځنګ نه یوازې دا چې دولتی په پام کې ونیول شي بلکې د باارزښته وارداتو په کنترول او څارنه کې هم خانګړې قوانین رامنځته شي.

دتخریبي فعالیتونو په تور درې تنه ونیول شول

درې کسه دحکومت ضد فعالیتونو په تور د غزني ولایت دګیلان په ولسوالی کې نیول شوی دی دغزنی ولایت دامنیت آمر عبدالوکیل کامیاب ویلی چې په نیول شوو کسانو کې ملا نظر شاه دطالبانو په وخت کې دکندهار ولایت دشاه ولی کوټ ولسوال هم شامل دی دغزنی دامنیت آمر دا هم ویلی چې نیول شوی اوږکې دغزنی په ولایت کې دځینو حکومتی ودانیو اوښوونځیو په سوزولو کې لاس درلود.

په وسله واله نښته کې افغان چارواکی وژل شوی



په پکتیا ولایت کې د یوې نښتې په ترڅ کې یوحکومتي مامور او بل برید کونکی وژل شوی

پرون د چارشنبې په ورځ (د کب ۲۴ د مارچ ۱۵) روند سهار د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی د خانوال په کلي کې هغه مهال وشوه چې د ولسوالی اداري مدیرله خپل کورنه د دفتر په لور روان ووچې څوناپیژندل شویو موټر سپرو پرې ډزې وکړې ۴مخ

دافغانستان په هکله د یوایرانی دیپلومات څرګندونې

په ملګرو ملتونو کې د ایران سفیر او دایمی استازي محمد جواد ظریف د سه شنبې په ورځ د امنیت په شورا کې ویلي چې په افغانستان کې د بهرنیو خواکونو شتون د امنیت په راوستو کې مرسته نه ده کړې دی وایي دغه مسئله ګوابنونکې ده، سره له دې چې بهرني خواکونه په افغانستان کې مخ پر زیاتېدو دي، مخالفو خواکونو د عملیاتو لمن پراخه کړې ده ظریف د افغانستان پرمختګونو ته په اشاري وویل سره له پرمختګونو تراوسه دیر څه چې باید سرته ورسیږي پاتې دي د افغانستان د ثبات، اوږدمهاله اولنډ مهال امنیت ستوزې لانه دی اواري او دهغوی حل لومړیتوب لري ده ویلي امنیت د نیشه یي توکو له سوداګری سره مرسته کړې نه ده او موږ په افغانستان کې د نیشه یي توکو پر ضد مبارزه کې مرسته کوو

په خوست کې دموټر بم نیول

دخوست په ولایت کې امنیتی کسانو په یوه موټر کې ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکې نیولی دی.

ددغه ولایت امنیتی چارواکې وایي چې دپیښې په ترڅ کې یو کس هم نیولی دی. ځایی پولیسو موټر بمب د تلاشی پر مهال نیولی دی. دخوست امنیه قوماندان محمد ایوب وایي چې دوی ته له وړاندې داسې اطلاع وه چې خوست ته څو موټر بمبونه ننه وتی دی او د نیول شوی ۴مخ

نړیوال بانک میواد ته ورپا او بې عوضه مرستې برابروی.

د ۲۰۰۶ کال دمارچ دمیاشتې په ۱۴ نیټه (د ۱۳۸۴ دکب دمیاشتې ۲۳ نیټه) نړیوال بانک ۴۰ میلیونه ورپا او بې عوضه مرستې د افغانستان دملی پیوستون دپروګرام له پاره چې ۸.۵ میلیونه وګړی ورځنه ګټه پورته کوی دمرستو دبهیر د چارې ساتلو، دپرمختیایی او بیا رغاونې دفعالیتونو دسرچینو دښه والی لپاره منظور کړی. ۳مخ

پوست قره قل تجارت پر در آمد کشور

پوست قره قل که نوعی گوسفند اصیل است، یکی از اقلام مهم صادراتی و تجاری در کشور به شمار می رود که پس از سرنگونی رژیم طالبان، تجارت آن، روز به روز رونق بیشتری می یابد.

تازه ترین ارقام نشان می دهد که در سال گذشته، افغانستان حدود ۱۰۰ هزار پوست بره را به خارج از کشور و عمدتا به اروپا صادر کرده است. شمال کشور، بیشترین سهم را در این صادارات به خود اختصاص داده است.

مردم ولایات فاریاب، جوزجان، بلخ، سرپل، کندز، بغلان و دیگر نواحی درشمال، از دامداران بزرگ این کشور قلمداد می شوند و بیشترین بره ها را پرورش می دهند.

اما پوست تمام بره ها، ارزش صادراتی ندارد و چند نژاد خاص با پوست ویژه، قربانی تولید قره قل می شود.

شمس الدین کاتب، رییس اداره زراعت و مالداری (دامداری) ولایت بلخ، می گوید که سه نوع پوست بره در بازارهای جهانی خریدار زیاد دارد. پوست کبودچه، پوست سور یا تقری و همچنین پوست بره های شتری.

بهای یک پوست کبودچه در بازارهای مزار شریف در حد ۵۰ دالر آمریکایی است.

اما آقای کاتب می گوید همین پوست وقتی به بازارهای اروپا راه می یابد، در حدود ۱۵۰۰ دالر معامله می شود.

آقای کاتب می گوید که قره قل به این سبب گران است که از آن کلاه و لباسهای مدرن و گران قیمت ساخته می شود.

با این حال، برای روستاییان کشور که حد میانه درآمد سالانه آنها از ۲۰۰ دالر آمریکایی تجاوز نمی کند، پنجاه دالر، مبلغ هنگفتی است.

این مساله است که آنها را به سوی کشتار گسترده بره های یک روزه، جهت می دهد.

محمد ابراهیم، از روستاییان ولسوالی دهدادی که برای فروش پوست چند بره اش به بازار مزار شریف آمده است، می گوید: "ابتدا منتظر می مانیم که گوسفند ما بزاید. درست همان ساعتی که بره تولد شد، آن را باید کشت. چرا که اگر گوسفند ماده (مادر) پوست بره را بلیسد، دیگر قره قل خوب به دست نمی آید."

گاهی برخی روستاییان اصلا منتظر نمی مانند و وقتی بره در شکم مادر است، تیغ قصاب به گلوی گوسفند برده می شود و پیش از تولد، بره از شکم مادر بیرون آورده می شود و پوست از تنش جدا می شود.

پوستی که از این نوع کشتار به وجود می آید "تقری" نامیده می شود که قیمت آن در بازار، بلندتر است.

اما این چیزی است که اغلب دامداران افغان، از انجام آن اجتناب می ورزند.

محمد حسن، ۲۵ ساله، یک قصاب با تجربه شش سال است. او می گوید که پدرش به او توصیه کرده گوسفند باردار را به هیچ قیمتی نکشد.

وی می گوید: "این خشونت است. پدر مرحوم ام گفته بود که اگر گوسفند حامله را بکشیم، یا بچه خود ما کور می شود یا شل (لنگ) می شود یا می میرد."

چنین تعریفی از کشتار گوسفندهای باردار، در میان اغلب مردم کشور رواج دارد. اما گاهی به این تعریف توجه نمی شود و آن را خرافات می خوانند.



به این ترتیب، پیش از اینکه گوسفند مادر، بچه اش را بلیسد و بو کند، چاقوی بران روستایی و قصاب به گلوی بره برده می شود و پوست از بدنش جدا می گردد.

فردا، این پوست در کابل و دیگر شهرهای تجاری کشور دست به دست می شود تا که سر از بازارهای کشورهای اروپایی و آمریکایی در می آورد.

طالبان، کشتار بره ها را غیر شرعی خوانده و آن را ممنوع کرده بودند.

بدین لحاظ در جریان حاکمیت آنها، تجارت پوست بره ها، به مقیاس کم و به صورت غیرقانونی و قاچاقی انجام می شد. این تصمیم، تاثیر بدی بر اقتصاد افغانها داشت.

اما مولوی عبدالله، در مزار شریف می گوید: "خدا اگر بخواهد جان یک کودک ۲ روزه را می گیرد و اگر نخواهد یک مرد ۷۰ سال عمر می کند. مال (گوسفند) را هم خدا برای بنده اش آفریده است. و این مال اوست هر وقتی که می خواهد می تواند آن را ذبح کند."

تاجران قره قل شکایت از این دارند که محدودیتهای بر کار آنها وضع شده است.

محمد رسول یک تاجر قره قل در بلخ می گوید: "ما خود مدیریت و توان این را نداریم که قره قل

را به بازار های اروپا عرضه کنیم چرا که دولت چنین زمینه ای را فراهم نکرده است. ما قره قل را به بازارهای کشورهای همسایه، از جمله پاکستان می بریم و تاجران پاکستانی هستند که آن را به ممالک اروپایی انتقال می دهند و در نتیجه بیشترین مفاد را می برند. "تاجران افغان از دولت می خواهند نهاد ویژه ای را برای تجارت این کالای با ارزش به کشورهای غربی فراهم کنند."

پرورش گوسفند قره قل اکنون در بلخ، به گفته شمس الدین کاتب، رییس اداره مالداری، یک مزرعه بزرگ پرورش قوچ و گوسفند قره قل تاسیس شده است.

در این مزرعه، ۳۲۰ راس گوسفند قوچ، که نژاد ویژه قره قل است، پرورش می یابد و نسل کبودچه را در میان دامهای روستاییان ولایت بلخ و نیز مناطق همجوار، ترویج می کند.

رییس اداره زراعت و مالداری ولایت بلخ امیدوار است این مزرعه به ترویج این نسل در آینده نزدیک در میان دامداران افغان در شمال کشور کمک زیاد کند. حالا که فصل بهار نزدیک می شود، موسم زایش گوسفندان هم رفته رفته فرا می رسد و کارد قصابان و تاجران پوست بره هم تیز تر می شود.

انتظار می رود که تجارت قره قل، به رشد اقتصاد ورشکسته کشور کمک کند و رفاه اجتماعی را برای کشاورزان و دامداران بی بضاعت در پی داشته باشد.

انسان و صلح

رحمت الله رسا

جوامع بشری و انسانی در پویه زنده گی خود به دو پدیده جنگ و صلح روبرو بوده است. انسان از لحاظ زنده گی فطری و طبیعی دارای دو خصلت ویژه است. و در واقع انسان مانند سکه ای دارای دو روی است که یک طرف ان خشونت و بدخویی است و طرف دیگر ان محبت و صلح و خوبی و نیکی است.

انسان شناسی به ما می اموزد که انسان از موجودات تعین کننده مسیر حیات اجتماعی است. این انسان می تواند باید خوی و خشونت جهان را به نابودی بکشاند و این ادمی می تواند با خوبی و نیکی دنیا را شگوفان و زیبا بسازد.

برای ساختن یک زنده گی بهتر وایجاد جامعه مرفه و با عزت و انسانی می توان "معارف باز" و اموزش و پرورش انسانی را تقویت کردو ودر انسان ساختن و مبارزه علیه خشونت و خوی ددی کار فرهنگی نمود.

فلسفه و تربیت ثابت کرده است که با اموزش و پرورش خوب می توان انسانهای خوب و مفید و صلح جو را تربیت کرد.

و در روند این تربیت از دانش مفید و انسان ساز کار گرفت و انس انسان ساز از فرهنگ عالی مقام اسلام و فرهنگ های خوب جهانی استفاده می کند در فرهنگ اسلام انسان دوستی و صلح در سرخط فرهنگ زنده گی قرار دارد. پیامبر بزرگوار اسلام حضرت محمد (ص) پیامبر صلح و محبت است و زنده گی پر بار و پر افتخار این انسان کامل زنده گی صلح امیز و محبت امیز و توام با صفا و صلح است.

همه مکتب ها ، فکر ها، اندیشه ها در پی ساختن انسان های مفید و خوب و صلح جو است.

امروزه به خاطر حیات بهتر بشریت به انسانهای صلح جو و انسان دوست نیاز است. معارف بشری در تلاش است تا به خاطر نجات کره زمین انسانهای خوب تربیت نماید تا بتواند بشریت را از چنگال جنایت و ترور نجات بدهد.

برای رسیدن به این هدف انسانی می توان از معارف خوب و مفید کار گرفت. برای به وجود اوردن انسانیت و زنده گی انسانی باید معارف باز با شیوه های خوب تدریس و اموزش و پرورش داشت.

برای معارف خوب به کدر های استاد ضرورت است.

معلمین دلسوز ،اگاه و تحصیلکرده، این معلمین دلسوز و اگاه می توانند به حیث کدر های مجرب در اصلاحات و توسعه همه جانبه فرهنگی ،اجتماعی و سیاسی کشور نقش بسزا داشته باشند.

توسعه معارف و با سواد سازی جامعه در ترقی وتعالی تولید ، تولید موثر تاثیر بسزا دارد. و جامعه را از لحاظ ساختار گذار از وضعیت عقب مانده به وضعیت پیشرفته کمک میرساند و ترقی اقتصادی مادی و معنوی می دهد. ترقی اقتصادی زمینه را برای زنده گی با عزت مهیا می سازد و حل مشکلات مادی و معنوی جامعه به امدن و تحقق صلح بهتر کمک می رساند در چنین جامعه مدنی است که انسانیت انسانها رشد بیشتر می کند و شخصت ادمی به کمال می رسد و انسانیت تقویت می شود. با تقویت انسانیت که به فضای احترام به مقام انسان و شخصیت انسانی است صلح هم تقویت می شود.

متصدی: سباوون

د بیا رغاونی په لور

افغانستان ته د پاکستان صادرات ډیر شوي دي

افغان چارواکي وایي په ۲۰۰۵ کال کې هیواد ته د پاکستان صادرات ۱۲۰۰ میلیونو ډالرو څخه اوښتي دي.

که څه هم دغه شمېره دقیقه نه ده، خو په هیواد کې د بهرنۍ سوداګرۍ مشر عظیم ورد ګ وایي هیواد ته د صادراتو د کچې له پلوه پاکستان په سر کې دی او ایران، چین او ترکیه دویم، دریم او څلورم ځایونه لري.

د تورخم-کابل پر سړک د پاکستاني ټیلري ګاډو نه ختمیدونکی تګ راتګ دا څرګندوي چې هیواد ته د پاکستاني توکو د لیږدولو بهیر څومره چټک دی.

دغه درانه ګاډي هیواد ته پاکستاني توکي لیږدوي او له دې لوري بیا تشې پاکستان ته درومي.

د کابل بنار په ختیځ وړه د څرخي پله په تنګي کې د دغو ټیلرو د اوږده کتار د یوه موټر چلونکی جمعه ګل وایي، په میاشت کې دري خلي کابل ته توکي لیږدوي.

د ګمرکونو د معلوماتو له مخې، هر دوږ په نسلګونو پاکستاني ګاډي له تورخمه اوړي او هیواد ته تخنیکي وسایل، ودانیز، خوراکي او د سونګ توکي او درمل لیږدوي په تیرو څلور کلونو کې هیواد ته د پاکستان د صادراتو کچه، ډیره لوړه شوې ده.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هیواد ته د پاکستان صادرات په کال کې شاوخوا ۲۲ میلیونه ډالره وو خود سوداګرۍ په وزارت کې د بهرنۍ سوداګرۍ رییس عظیم ورد ګ وایي اوس دغه صادرات په کال کې لږ او ډیر ۱۲۰۰ میلیونه ډالره کیږي.



د پاکستان د سوداګرۍ وزارت چارواکي بیا دغه شمیره تردې هم لوړه بولي او وایي روان کال کې یې هیواد ته صادرات ۱۵۰۰ میلیونه ډالره شوي دي.

د هیواد په بنارونو، بازارونو او د خلکو کورونو کې هرچیرې او په هر ځای کې د پاکستاني توکو پریمانې ده.

په بنارونو کې د دنګو ودانیو، مارکیټونو او شخصي کورونو په جوړلو کې، زیاتره له پاکستانه راوړل شوي ودانیز توکي لکه سمنټ او د اوسپني سیخان کارول کیږي.

داچې لامل یې څه دی، د ودانیزو توکو د یوه شرکت مشر محمود خان وایي داځکه چې د پاکستاني توکو بیې ټیټې دي.

خینې شمېري ښیي چې په سلو کې اتیا کاریدونکي ودانیز توکي پاکستاني دي.

د هیواد د خوراکي توکو بازارونه هم د پاکستاني خوراکي توکو ځخه ډک دي.

د کابل بنار په زړه کې د باغ قاضي د خوراکي توکو مارکیټ د هټیو په سلو کې نوي هغه وریجې، مالګه، اوړه او حبوبات خرڅوي چې له پاکستانه راوړل شوي دي.

د دغه مارکیټ څوتنه هټیوال وایي د پاکستاني خوراکي توکو د وارداتو زیاتوالي، افغان صنعت کاران هم اندیښمن کړي دي.

جیبونو له وس سره برابرې دي.

د سویلي سیمو یو اوسیدونکی، اختر محمد بیا وایي، خکه پاکستاني خوراکي توکي کاروي چې په وینا یې په هیواد کې تولید شوي توکي د تولو لپاره بسنه نه کوي.

د برښنایي وسایلو په برخه کې هم ورته حالت دی.

د نادر پشتون په وات کې د نعیم هوتک د مغازې یو خرڅونکی محمد جاوید هوتک بیا وایي، پاکستاني برښنایي وسایل ځکه خلک ډیر رانیسي چې کیفیت یې بد نه دی.

خو زمری بیا له پاکستان څخه د راغلو درملو په برخه کې دغه خبره سمه نه بولي او وایي هیواد ته راوړل شوي درمل بنه کیفیت نه لري دی له چارواکو غواړي چې په دې برخه کې کلک کنترول ولګوي.

په دې برخه کې زیاتره افغانان ورته غوښتنه لري او د سوداګرۍ له وزارت څخه غواړي چې هیواد ته د بې کېفیته توکو د واردیدو مخه ونیسي.

د نورم او ستاندرد په نوم د سوداګرۍ په وزارت کې یوه اداره شته چې باید دغه کنترول ترسره کړي، خو بنا غلی ورد ګ وایي اوس دغه اداره د دغې چارې د ترسره کولو وړتیا نه لري.

بل لور ته هیواد ته د پاکستاني توکو د وارداتو زیاتوالي، افغان صنعت کاران هم اندیښمن کړي دي.

د افغان صنعت کارانو د **تولیي مسر** عبدالجبار وایي په تیپه بیه، هیواد ته د پاکستاني توکو په راتګ سره ځینې افغاني کارخانې له ماتې سره مخامخ شوي دي.

په همدې حال کې بنا غلی جبار ادعا کوي چې پاکستان د هیواد د بازارونو د خپلولو لپاره، په سبسیدي سره خپل ځینې توکي هیواد ته صادروي.

بنا غلی جبار پر دولت غږ کوي چې د افغان صنعت کارانو څخه ملاتړ وکړي چې په وینا یې وکړای شي چې د ازاد بازار اقتصاد په شرایطو کې د بهرنیو توکو سره سیالي وکړي.

د اقتصاد یو شمیر کارپوهان هم د هیواد د صادراتو او وارداتو تر منځ بې اندولي په اوږدمهال کې د هیواد په ګټه نه بولي.

د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي استاد حمیدالله فاروقي وایي باید د نا اړینو وارداتو په مخنیوي او د صادراتو په زیاتولو سره دغه اندول ورو ورو برابر شي.

د کارپوهانو په وینا، هیواد د خپلو معدنونو، د تیلو د زیرمو، ګازو او کرنیزو محصولاتو څخه په ګټورې استفادې سره کولی شي چې د خپلو وارداتو او صادراتو تر منځ اړین اندول جوړ کړي.

په لنډ مهال کې دغه بې اندولي ډېره د اندیښنې وړ نه ده، خو کارپوهان وایي چې د دغه حالت دوام به هیواد په بشپړه توګه په یو لګښتي هیواد بدل کړي، پیسې به بې خپل ارزښت وبایلي. **بې رورګارۍ به** پراخه او د خلکو پر ژوند به ناوړه اغیز وکړي.

د پنځو راتلونکو کلونو لپاره، د هیواد د ملي پرمختیا په تګلارې کې هم ټینګار شوی چې خصوصي پانګه اچونې ته د ښو شرایطو په برابرولو سره هیواد باید د یو لګښتي هیواد څخه په تولیدي بازار باندې بدل شي.

نړیوال بانک هیواد ته ...

دملی پیوستون دبیړنۍ پروګرام لپاره دا وړیا او بې عوضه مرستې په داسې ډول سمبالې شوی دی چې دتولنې په مشرۍ او تر څارنې لاندې دبیا رغاونې ا ود کلیوالې زیربنا دپراختیا لپاره لاره هواروي. دا مرستې به فرعي پروژې لکه فزیکي زیربنا، بې وزلو ښځو او معیوبینو ته دموادو نیغ په نیغ لیږدولو او رسولو او دکلیوالو استوګنو له خوا د عایداتي فعالیتونو دسمبالولو په منظور د مالي مرستو دکارولو چارې تمویلوي.

دملی پیوستون پروګرام د افغانانو له خوا د هغوی دخپلو پراختیایي پروژو دپیژندلو پلان جوړولو سمبالښت او څارنې په اړوند دا افغاني تولنې د ظرفیت د لوړولو لپاره په کال ۲۰۰۲ کې پیل شو. ملی پیوستون پروګرام یو نوی پراختیایي ماډل طرحه کړی چې دهغه پر بنسټ به سیمه ییزې تولنې دپروژې په تولو پراوونو کې دپریکړې کولو او دسرچینو د سمبالولو لپاره دخیل کړای شي. تر دې دمه نوموړی پروګرام د تولو ۳۴ ولایتونو په ۱۹۳ ولسوالیو کې پلی کیږي.

دنړیوال بانک د کلیو دپراختیا دچارو د کار په وړاندې بنا غلی نورمان پیچوني داسې وویل: دملی پیوستون پروګرام سیمه ییزو تولنو ته دسرچینو دلیږدولو او له هغو څخه په مسوولانه، مشورتي او شفافه توګه دګټې اخیستنې یو اغیزمن میکانیزم بلل کیږي.

نوموړی زیاتوی: دخلکو تولنې د پروژو په تاکنه او پلی کولو کې فعاله ونډه ترسره کوي په پریکړو کې دتولنو پراخه ژوره برخه اخیستنه چې پر هغوی ډیر ښه اغیزه هم کوي په پروژو کې دګړندیو او ښکاره اغیزو او همدارنګه د سیمه ییزو حاکمیت جوړونې پیاوړې کوي او د اوږد مهالې ګټې سبب ګرځي.

دملی پیوستون بیړنۍ پروژه، چې د ۲۰۰۳ کال ددسمبر دمیاشتې په ۲۳ نیټه دنړیوال بانک له خوا منظور شوه دملی پیوستون دپروګرام بنسټ بلل کیږي دا پروګرام د (۹۸ میلیونو ډالرو) دهیواد د بیارغاونې دصندوق له لارې چې دنړیوال بانک له خوا سمبالیږي او بر سیره پر دې ددوه اړخیزو تدبیرونو له لارې دیو شمیر تمویلوونکو په واسطه مالي سرچینې ترلاسه کوي.

ددې پروګرام یو د اهمیت وړ اړخ دپریکړو کولو برخه ده چې په هغې کې دمرستو دکارولو طریقه شامله ده تولنیزې پراختیایي شوراګانې دپټې رای ورکولو له لارې ټاکل کیږي او دیوغښتلي او پیاوړي سیمه ییز حاکمیت مشورو او د سیمه ییزې رهبرۍ مشروعیت بنسټ جوړوي نوموړي شوراګانې وروسته بیا په تولنه کې دوندې او پروګرام یوه لړۍ پیل کوي. تر څو مرستو دلګښت دلارو چارو په اړوند پریکړې وشي.

د ۲۰۰۶ کال دفبروري تر میاشتې، نږدې ۸،۵ میلیونو افغانانو (د افغانستان دکلیو د اوسیدونکو د ۱۸،۸ میلیونو له ډلې څخه په سلو کې ۴۵) له دې پروګرام څخه ګټه پورته کړې ده نږدې ۱۰۴۷۱ تولنیزو ډلو سیمه ییزې پراختیایي شوراګانې تاکلی او له ۱۴۰۰۰ څخه ډیر شمیر تولنیزې پروژې تمویل شوی چې له هغې ډلې څخه له ۴۵۰۰ څخه ډیرې پروژې تر اوسه بشپړې شوی دی. نږدې په سلو کې ۸۸ پروژې د اوبو لګولو، کلیوالې دتولنو پراخه ژوره برخه اخیستنه چې پر هغوی ډیر ښه اغیزه هم کوي په پروژو کې دګړندیو او ښکاره اغیزو او همدارنګه د سیمه ییزو حاکمیت جوړونې پیاوړي کوي او د اوږد مهالې ګټې سبب ګرځي.

کانالهای آبیاری در شمال کشور احداث میگردد

اداره توسعه بین المللی ایالات متحده آمریکا (USAID) یک پروژه بزرگ احداث چندین کانال آبیاری را در ولایت بلخ، تمویل کرده که با اجرای آن، بیش از ۳۰۰ هزار هکتار زمین زراعتی در این منطقه آبیاری می شود.

این پروژه با هزینه بالغ بر ۵ میلیون دالر اجرا می شود و قرار است بندها و کانالهای نواحی مشتاق، چمتال، عبدالله و دولت آباد در ولایت بلخ و نیز کانالهای آب نواحی چاربولک، فیض آباد و جوزجان را بازسازی و بهره برداری کند.

مهندس عصمت الله، رییس اداره آبیاری ولایت بلخ، می گوید امیدوار است با اجرای این پروژه آبیاری، بخش بزرگی از نیازمندی کشاورزان ولایت بلخ به آب، برطرف شود.

این پروژه یکی از بزرگترین کارها در جهت بازسازی زیربناهای اقتصادی در ولایت بلخ عنوان می شود.

به سبب فراوانی آب، زمین حاصلخیز و هوای مناسب، ولایت بلخ و اغلب مناطق شمال، در سالهای پیش از جنگ، انبار غله مردم کشور نام گرفته بود.

به گونه ای که بسیاری از نیازمندهای مردم کابل و دیگر ولایات از فرآورده ها و محصولات کشاورزان ولایات شمال، تامین می شد.

اما جنگهای پیاپی و خشکسالی های طولانی مدت، به کشاورزی در شمال نیز آسیب رساند و باعث شد که مردم ولایت بلخ هم به علت ویرانی، کانالهای آب و عدم دسترسی به منابع آبی، به کشت خشخاش روی آورند که درآمد آن نسبت به پنبه و گندم به مراتب بیشتر است.

این اقدام، زمینه ساز آن شد که در سال گذشته (۲۰۰۵ میلادی)، پس از قندهار و هلمند، ولایت بلخ جایگاه سوم را در تولید بیشترین تریاک از آن خود کند.



مقامات محلی، از جمله عطا محمد نور والی بلخ که در مراسم آغاز به کار احداث این کانالهای آب شرکت داشتند، می گویند که امیدوارند با بازسازی زیرساختهای اقتصادی در این مناطق، زمینه کسب و کار قانونی مردم را فراهم کنند و مبارزه با مواد مخدر را در این مناطق، به طور عملی تر به پیش ببرند.

یوازی انتقادونه د حل لاری نشی رامنځته کولای!!!

اشرف

د هغو ټولنو او خلکو لپاره چې د وخت واکمنو د خپلو اهدافو د سرته رسولو په خاطر په دیکتاتورانه ظلمونو کې راګیر کړی وی او د وخت په ظلمونو کې یې د ازادی په هیله شپې ورځې سبا کړی وی د ازادی کلیمه زیات ارزښت لری او داسې ټولنې او خلک د ازادی په ارزښت پوهیدلی شي.

زمونږ ټولنه او خلک د وختونو د واکمنانو تر ظلمونو لاندې د ازادی او دموکراسی د راتګ لپاره په هیله وو چې نن سبا په هیواد کې دیوی نسبی ازادی څخه برخمن شوی دی ځکه چې د هیواد په مرکز او ولایاتو کې شخصي رادیوګانې، تلویزیونونه ورځپاڼې جریدې او مجلې رامنځته شوی چې په لومړیو کې یې شمیره له دری سوو څخه هم زیاتیدله ددی څرګندویی کوی چې په هیواد کې تر پرون خلکو ته ددې زمینه برابره شوی ده چې ازاد او په سوله ییزو شرایطو کې ژوند تولنو له خانګړتیاوو څخه شمیرل کیږی موجود دی او تر هغه پورې چې دغه خندونه د ازادی او دموکراسی په لاره له منځه یونه ورل شی نشو کولای چې د بشپړې ازادی په درشل کې ګامونه کیږدو.

په داسی حالاتو او شرایطو کې د انتقاد ګوته دواړو خواووته نیول کیږی د بیلګې په توګه ځینی وخت پخپله د انتقاد کوونکو له خوا یا خو انتقادونه په یوه معقول حد کې نه وی د انتقادونو په کولو سره داسی الفاظ کاروی چې هغه د مطبوعاتو د اصولو سره سمون نه خوری او څرګنده ده چې تر انتقادد لاندی اشخاص تر انتقاد کولو په هغو الفاظو زیات خفه کیږی او عقدی زیږوی کوم چې دهغه شخصیت تر پوښتنې لاندی نیسی چې باید د داسی الفاظو له کارولو څخه ډډه وشی په دویم ګام کې باید د انتقاد په کولو کې د مقابلی خوا یا اداری امکانات هم په پام کې ونیسی او د انتقاد د کولو لاری چاری هم ورته څرګندی کړای شی.

خو که چیری د انتقاد کوونکی لوری ته په خپله ځیکنه کې مسوولیت متوجی دی مقابل لوری هم خانته برات نشی ورکولای او هغه دا چی د دموکراسی په شرایطو کې چیری مسوولین دموکراسی ته وفاداره وی باید د انتقاد د منلو حوصله ولری او د حل لاری چاری یې وپلټی زمونږ په هیواد کې چې نوی د دموکراسی په لاری روان شوی یو او نسبی ازادی اولس ته او مطبوعاتو ورکړل شوی ده لاتر اوسه پوری زمونږ مسوولینو د انتقاد د منلو او د هغوی د حل په لوری کار نده او ګټور ګامونه نه دی پورته کړی تر اوسه پوری د انتقاد د منلو لپاره عیار شوی نه دی کوم انتقادونه چې هره ورځ کیږی په حقیقت کې د دولتی ادارو د کارونو په وړاندی د خندونو د لیری کولو په خاطر کیږی د اکثرو ادارو له خوا ورته په سرسری نظر کیږی او داسی ګڼی چې هیڅ انتقاد نه دی شوی او یا خو پدی برخه کې د حل لپاره هیڅ پاملرنه نه کیږی.

د مظاهرو، مارشونو، انتقادونو په وړاندی بی توپیری او خانونه ناګاره کول په هماغه اندازه اولس هم د دولت په وړاندی ناګاره کوی ولس یې توپیر کوی او په خپلو مسوولینو یې باور او اعتماد له منځه وړی چې مورږ اوس په خپله ټولنه کې همدا ډول حرکت وینو د ولس بی توپیره کیدل پخپله د حکومتی ادارو په کړونو کې د خندونو او سراسری امنیت په خرابوالی کې لا منفی شیبی رامنځته کوي ځکه خو باید زمورږ مسوولین که په هره سطحه کې وی باید د انتقادونو په وړاندی دعکس العملونو په ښودلو سره د حل لاری چاری ولټوی او دانتقادونو دود او حل د خپلو کارونو د پرمختګ نښی وښولي.

پخش شبنامه...

در حالیکه بیشتر از یک هفته از اغاز سال تعلیمی باقی نمانده است مردم قره باغ نگران اند که سرنوشت دختران شان چه خواهند شد اما مقامات امنیتی غزنی میگویند چنین اقدامات که از سوی دشمنان مردم صورت میگیرد هیچگونه تاثیری روی زندگی عادی مردم نخواهد داشت مسولین امنیت را در سطح این ولایت تامین خواهند کرد.

د یوی ریکشا چلوونکي...

هڅوا بیا په کندهار کې د PRT ډلې دغه خبر منلې او په دې هکله یې نومورې آژانس ته خپله خواشینی ښودلې ده دی پی آر تی ویاند جولی پژواک آژانس ته ویلی چې مورږ له ټولو افغانانو په تیره بیا په کندهار کې غواړو چې په امنیتی لحاظه زمورږ موټرو ته نه نږدې کیږي.

په خوست کې...

موټر بمب په هکله ویل چې دوی د طالبانو د ملګرتیا په تور له یو افغان سره دغه موټر بم نیولی ده غوښتل چې په کوم مهم ځای کې یې والوزوی. ده دا هم وویل چې په نیول شوی موټر کې دومره بمونه پیرلی و چې بی له انفجاره یې بله چاره نه وه او دانتلافی ځواکونو په مرسته یې موټر والوزاوه. او له بلې لورې بیګاه شپه دخوست په بتاخانو سیمه کې یوه کورته چا لاسی بمب غورځولی دی او پکې څلور کسان یې ټپیان کړی دی. چې دیوه حالت یې نازک ښایی تر اوسه پورې چارواکو او ژوبلې کورنۍ څوک تورن کړی نه دی.

بقایای طالبان...

که دولت به ان روبرو است او میگوید اقدامات جدی تر را که باید اکنون صورت گیرد این است که حملات بعدی شورشیان و هراس افگنان در هرنقطه کشور پیش از وقوع ان خنثی گردد. اقای کونیکر می افزاید که به همه معلوم است تمام رهبران طالبان گرفتار نشده اند وانان ا کنون در مناطق جنوبی افغاستان و ان سوی مرز پنهان هستند و در طرح ریزی برنامه های هراس افگنانه سهم دارند اما کریم رحیمی سخنگوی ریاست دولت میگوید دولت امادگی های ویژه یی را برای کشف و خنثی سازی حملات هراس افگنان روی دست گرفته است.

نامه وارده

به اداره محترم روزنامه وزین اراده

با تقدیم احترامات و تمنیات نیک:

ارزومندیم در جواب پراگراف منتشر شده درشماره نودم، صفحه چهارم تاریخ ۲۳ / حوت / ۱۳۸۴ تحت عنوان (پاسخ به خبر) مطلب ذیل را در شماره بعدی خویش به نشر سپرده ممنون سازید:

به خاطر جلوگیری از سوء تفاهم ناشی شده از مضمون تحت عنوان (اختلاس در وزارت معارف).

اداره مبارزه با ارتشاء و فساد اداری قصد اتهام زدن را به کادر رهبری وزارت محترم معارف نداشته و جای شک نیست که همکاری وعطف توجه جناب محترم وزیر صاحب معارف، که در رابطه به مسایل عمده از جمله یک مسله در بخش تربیه معلم و همچنان یک تعداد اسناد جعلی که به هزار قطعه میرسد، این اداره را در روشنی و شفافیت قرار داده است، اظهار رضایت و امتنان مینمائیم.

اما قضایای بررسی شده توسط این اداره قبل از تقرر جناب وزیر صاحب بوده، که متوجه انها و کادر رهبری وزارت محترم نمی باشد، بلکه اتهام اختلاس و تزویر اسناد تحصیلی در رابطه به یک تعداد کادر های قبلی وزارت محترم معارف است، که دوسیه نسبتی شان غرض اجرااات به مقام محترم لوی څارنوالی جمهوری اسلامی افغانستان محول گردیده است.

از طرف ریاست عمومی مستقل مبارزه با ارتشاء و فساد اداری به امضا مسوول اداره

افغانستان، افراطیون اسلامی و اینده پاکستان

دسته دیگر

بیې صفحه به ګډه شده

فراوانی اسلحه در بین مردم، افزایش اعتیاد به مواد مخدر در جامعه، ناتوانی و رشوت در نیروهای پولیس برای کنترول اقدامات تروریستی در سراسر این کشور، افزایش مردم در شهرها، ضعف و آلوده بودن قوه قضائیه در تطبیق عدالت مجرمین، بیکاری و فقر روزافزون از دیگر مشکلات در کشور پاکستان میباشد

پاکستان امروزی ترکیبی است از مناطق و سرزمین هایکه در گذشته متعلق به هندوستان و افغانستان بوده اند نام پاکستان ترکیبی است از مخفف نام چندین ملیت که در این کشور زندگی مینمایند

<پ> (پنجابی)
<ا> (افغان)
<ک> (کشمیری)
<س> (سندی)

به اضافه کلمه ستان طالبان از نظر تعلیمات نظامی به (آی. اس. آی) سازمان امنیت نظامی پاکستان تعلق دارد که آموزش ها و به کارگیری تکنالوژی جدید جنگی را می اموزند با وجود این که طالبان پشتون اند یک نیروی وابسته بوده و در خدمت سیاست پاکستان قرار داشته ومورد اعتماد شبکه های جاسوسی آن کشور است

پاکستان تلاش دارد تا بوسیله طالبان خوشبینی پشتونهای افغانستان و پاکستان را به خود جلب نموده و ادعای افغانستان را مبنی بر پشتبانی از حق خودارادیت مردم پشتونستان در زمینه بی اثر سازد.

(با سلام و درود های فراوان)

په وسله واله ننبته کې...

او له اداري مديرسره چې خپله وسله هم ورسره وه په برید کونکو ډزې پیل کړې چې د څودقیقو په ننبته کې نومورې اداري مدیر او یو بریدکونکي ووژل شو.

دا خبري سلیمانخیل چې دپکتیا ولایت دپولیسومشردی وکړې اوزیاته یې کړه چې نور برید کونکي له سیمې تښتیدلي دي او لټون یې روان دی خو تر دې مهاله پورې څوک نه دي نیول شوي. ده پرې مخامخ په طالب توپکوالو وروا چوله خو تراوسه پورې یې چا پرې په غاړه نده اخیستي. په زرمت ولسوالی کې دتیرو څومیاشتو راهیسې څوځلي ورته پیښې شوي دي. د سیمې خلک له حکومتي چارواکوغواړي چې په سیمه کې امنیت د پخوا په شان تینګ کړي. خو سلیمانخیل وایي چې دوی له قومي مشرانو اربکیو یا قومي ملیشو هم غوښتي دي چې په سیمه کې دحکومتي چارواکو او د خیریه موسسو دکارکونکو امنیت ونیسي

اراده

زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد

موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد

مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)

تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان

اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"

چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

قیمت یک شماره ۳ افغانی

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)

Composed & designed by: sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)

eradadaily@hotmail.com